خبرداری : د کډوالو د داوطلبانه ستنیدو او بیرته د ځای په ځای کیدو د پروګرام مراجعه کوونکې دې د جعلکارانو د پلانونو په مقابل کې هوښیار اوسي.

ترکیه ، استانبول – په ترکیه کې د کډوالۍ نړیوال سازمان خبرداری ورکوي چې ځیني جعلکاران د کډوالۍ نړیوال سازمان د استازو په نامه داوطلبانه ستنیدو او بیرته ځای په ځای کیدو پروګرام مراجعه کوونکو ته د هغوې د غوښتنلیکونو د مخکې کولو او چارو د لا ګړندي کولو کار په بدل کې د پیسو غوښتنه کوي.

دا ډول کسان د ترکیې د کډوالۍ نړیوال سازمان سره هیڅډول تړاو نلري . د داوطلبانه ستنیدو او بیرته ځای په ځای کیدو پروګرام مراجعه کوونکو ته ټول معلومات پخپله د کډوالۍ د نړیوال سازمان د مسئولینو یا ( د هغوې د قضیې مسئول ) لخوا ورکول کیږي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان یو خپلواکه نړیوال سازمان دی چې د داوطلبانه ستنیدو او بیرته ځای په ځای کیدو پروګرام د شفافیت د اصولو له مخې عملي کوي. ددې پروګرام ټول خدمات وړیا دي او ټولو متقاضیانو سره یو شان چلند کوي.

د همدې امله د کډوالۍ نړیوال سازمان د متقاضیانو نه په درناوۍ غوښتنه کوي چې پدې برخه کې د احتیاط نه کار واخلي او د خپلو غوښتنلیکونو او د کډوالو لپاره د موجودو خدماتو په اړه د سمو معلوماتو د ترلاسه کولو په خاطر په مستقیمه توګه د کډوالۍ د نړیوال سازمان د رسمي مسئولینو سره ارتباط ونیسي.

ددې پروګرام په اړه مختصر معلومات، موجود خدمات او اړیکو تاسې پدې پاڼه کې موندلی شئ.

د لا زیاتو معلوماتو او یا د جعلکارۍ د پیښې په اړه د شکایت کولو په خاطر تاسې کولای شئ چې لاندینۍ شمیرې له لارې د ترکیې د کډوالۍ د نړیوال سازمان د مسئولینو سره اړیکه ټینګه کړئ.
د ټیلیفون شمیره ...... ۰۲۱۲۹۳۹۸۱۲۱
برښنالیک یا ایمل ادرس ........ iom-istanbul-avrr@iom.int